مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
دوشنبه د ۱۳۹۸ د وري ۲٦مه | د ۲۰۱۹ د اپرېل ۱۵مه | دویم کال| ۳٦۳مه گڼه

## هېواد

۴ مخ

### تونگا

د دغه هېواد ۷۰ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۳۵ سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له همدغه سکټور څخه په لاس راوړي.



# د مشورتي لویې جرګې تحریم؛

## د ډاکټر عبدالله عبدالله ټیم وایي دغه جرګه د افغانستان ستونزه نه شي حلولی



۳

### د ثبات او همپالنې ټیم دریځ او د راتلونکې جرګې برخلیک

۲ مخ

### له سولې سره ناروا لوبې

۲ مخ

### د هند ټاکنې به څوک وګټي؛ مودي که راهل ګاندي؟

۳ مخ

## چارواکي: په هلمند کې شنو خونو د بزګرانو کرنیز عواید زیات کړي دي



د هلمند سیمه ییزو چارواکو ویلي، چې په دغه ولایت کې شنو خونو د بزګرانو کرنیز عواید زیات کړي دي.
د دغه ولایت د کرنې رییس زلمي الکوزي پرون ازادي راډیو ته ویلي، چې د یاد ولایت د مرکز لښکرګاه ترڅنګ، په ځینو ولسوالیو کې د کرنې ریاست او خصوصي سکټور له خوا پر بزګرانو شنې خونې وېشل شوې دي، چې د بزګرانو په حاصلاتو کې یې د پام وړ زیاتوالی راوستی دی.
ښاغلي الکوزي زیاته کړې چې په دغو شنو خونو کې د کال په ټولو موسمونو کې، د بېلابېلو سابو او ترکاریو کرکېله کېږي او د بزګرانو د کرنیزو محصولاتو د عوایدو په ښې سرچینې بدل شوې دي.
د یاد ولایت کروندګر د شنو خونو د وېش له لړۍ هرکلی کوي او وایي، که حکومت له دوی سره په وخت لازمې مرستې وکړي، د دوی په حاصلاتو کې به ډېر زیاتوالی راشي.

## امریکایي چارواکي له نړیوال بانک سره په افغانستان کې له سولې وروسته پر پلانونو غږېدلي دي

امریکایي چارواکو له نړیوال بانک او مرستندویانو سره په افغانستان کې له سولې وروسته پر انکشافي پلانونو خبرې کړې دي.
د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د جنوبي اسیا څانګې ویلي، چې د جنوبي اسیا په چارو کې د متحده ایالتونو د بهرنیو چارو وزارت مرستیالې، الېس وېلز په نړیوال بانک کې د افغان سولې په برخه کې د امریکا د ځانګړې استازي له مرستیال، افغان چارواکو او نړیوالو مرستندویانو سره تر سولې وروسته، پر نړیوالو مرستو او د خصوصي سکټور پر پیاوړي کولو خبرې کړې دي.
ویل کېږي چې متحده ایالتونو له طالبانو سره د سولې په صورت کې د هغو سیمو لپاره ۱۸ میلیارده ډالره مرسته په نظر کې نیولې، چې په تېرو ۱۸ کلونو کې د سختو جګړو شاهدې وې او زیانونه ورته اوښتي دي.
په ورته وخت کې داسې رپوټونه هم ورکړل شوي، چې د امریکا د نړیوالې پراختیا اداره غواړي خپلې سترې پروژې تر سولې وروسته پړاو ته وځنډوي.
دغه څرګندونې په داسې حال کې کېږي چې په دې وروستیو کې د افغان سولې په تړاو د امریکا او طالبانو ترمنځ خبرې حساس پړاو ته داخلې شوې دي او ټاکل شوې چې د دغو خبرو بل پړاو هم په روانه میلادي میاشت کې په قطر کې ترسره شي.

## که مو امنیت ته پاملرنه ونه شي، خپلې پانګې به بهر ته وباسو




۵ مخ

## لغزش زمین در ولسوالی چهارکنت بلخ صد خانه و صدهاجریب زمین ویران کرده اند



شماری از باشنده‌گان ولسوالی چهارکنت ولایت بلخ می گویند که در نتیجۀ لغزش زمین در این ولسوالی، بیش از صدخانه و صدها جریب زمین کشاورزی ویران شده‌اند.
به گفتۀ باشنده‌گان ولسوالی چهارکنت، ده‌ها باغ میوۀ آنان نیز در این لغزش زمین تخریب شده‌اند.
سرور، یکی از این باشنده‌گان چهارکنت گفته است: «خرابی در این‌جا از حد زیاد شده، چندین روز می‌شود که راه ما بند است؛ حتا مریض خود را به چهارپایی به شفاخانه می‌بریم».
محمدعلی، باشندۀ دیگر چهارکنت نیز افزوده است: «خسارات مالی بسیار به مردم رسیده، فعلاً هم بخش‌های این ولسوالی در تهدید استند. اگر حکومت توجه جدی نکند، احتمال می‌رود تا یک ماه دیگر لغزش‌های دیگر نیز رخ بدهد».
در همین حال سلیمه مزاری، ولسوال چهارکنت نیز می گوید که در نتیجه لغزش زمین، راه‌های شش روستا در این ولسوالی با مرکز و شهر مزارشریف بسته شده‌اند و باشنده‌گان این روستاها در حالت بدی به‌سر می‌برند. مزاری افزوده است: «بالاتر از صد خانه بدلیل رانش زمین از بین رفته. این موضوع را به ولایت گزارش کردیم... اما تاهنوز هیچ کمکی صورت نگرفته‌است». از سویی هم، محمدابراهیم خیراندیش یک عضو پیشین شورای ولایتی بلخ از حکومت انتقاد می کند که تاکنون برای آسیب دیده‌گان هیچ کمکی نکرده‌است. وی افزوده است: «متأسفانه سیلاب‌های بسیار مدهش این‌جا سرازیر شده و این سیلاب‌ها باعث شده که زمین رانش کند و برای چهار قریه حادثه خلق کند».

SHIGAL ENGLISH ACADEMY
2019




Easy English Learning With Shigal
Admission Open
+93 (0) 789 98 9696
Dehbori, 2nd Street Behind Dehbori Park, 3rd District, Kabul.
Shigal English Academy
www.shigal.edu.af

## دریــغ

### د ثبات او همپالنې ټيم دريغ او د راتلونکې جرګې برخليک

د عبدالله عبدالله په مشرۍ د ثبات او همپالنې ټاکنيز ټيم ويلي چې د سولې په اړه په جوړېدونکې مشورتي جرګې کې ګډون نه کوي. دغه ټاکنيز ټيم په يوه خپره کړې خبرپاڼه کې ويلي چې د سولې مشورتي لويې جرګې په اړه له دوی سره د ګوندونو د استازو په توګه او يا هم په حکومتي کچه سلا مشوره نه ده شوې. له دې سره د اسلامي جنبش، جمعيت اسلامي او د کريم خليلي په مشرۍ وحدت ګوند استازو ويلي چې د ښاغلي عبدالله د ټاکنيز ټيم ملاتړي دي او په جرګه کې برخه نه اخلي. دوی ټينګار کوي چې د سولې مشورتي جرګه د افغانستان ستونزو هواري ته ګټوره نه ده او ګډون پکې نه کوي.

د سولې د مشورتي لويې جرګې په اړه له وړاندې نيوکې وې، خو اوس چې نيم حکومت او آن د سولې عالي شورا مشر او د هغه ګوند دا جرګه تحريم کړه، نو ستونزې زياتې شوې دي. که څه هم ارګ وايي چې ولسمشر به د ډاکټر عبدالله انديښنې واوري، خو داسې نه ښکاري چې دا ستونزه به حل شي. د سولې له مشورتي جرګې سره اختلافات د څو دلايلو پر اساس زياتېږي. لومړی دا چې لا هم روښانه نه ده چې جرګه پر څه بحث کوي او اصلي دنده يې څه ده. له بله اړخه دا جرګه مشورتي ده او له مشورتي رول پرته نور څه نه شي کولی. بل لامل يې دا دی چې جرګه د ولسمشر غني په فرمايش او خوښه جوړېږي او هڅه کېږي چې د سولې په برخه کې د هغه دريځ پياوړی کړي. همدې چارې ته سياسي مخالفين ګوري او مخالفت يې کوي، ځکه چې دا چاره د سولې پر ځای تر ډېره د ولسمشر د موقف له ولسي ښودلو سره مرسته کوي. له بله اړخه ولسمشر غني د قطر له کېدونکې غونډې سره مخالف دی او هڅه کوي چې دا غونډه وځنډوي. د ولسمشر هڅه دا ده چې لومړی جرګه وشي او بيا د قطر غونډه، خو سياستوال او طالبان بيا ټينګار کوي چې لومړی به د قطر غونډه کېږي. حکومت تر اوسه هم هڅه کوي چې د قطر د غونډې مخه ونيسي. له همدې امله يې تر اوسه پلاوی نه دی ټاکلی او د مصالحې په عالي شورا کې هم نه دي بريالي شوي چې پر يوه پلاوي توافق وکړي. ويل کېږي چې حکومت په پلاوي کې د داسې کسانو پر ګډون ټينګار کوي چې هغوی د سولې مخالف دي او په قطر کې به يې هم هڅه دا وي چې ستونزې ډېرې کړي. سياستوال دا درک کوي، نو ځکه له جرګې سره مخالفت کوي. اوس چې ټاکل شوې د غويي په نهمه به جرګه جوړه شي، حکومت به ډېره هڅه وکړي چې سياسي مخالفتونه را کم کړي، خو د سولې په اړه د حکومت او سياستوالو ترمنځ واټن زيات دی او سخته ده چې لانجه به حل شي.

د سياستوالو هڅه دا ده چې جرګه کمرنګه کړي، خو د حکومت هڅه بيا دا ده چې د قطر غونډه کمرنګه کړي. له جرګې سره د عبدالله له مخالفت وروسته داسې ښکاري چې د حکومت دريځ کمزوری کېږي او مخالف سياستوال يې توانېږي چې حکومت تر فشار لاندې راولي او د قطر غونډه پخپله خوښه وکړي.

# له سولې سره ناروا لوبې



ليکنه: عبدالباري جهاني

دا چې سوله په افغانستان کې څومره مهمه او حياتي مسئله ده، پر دې ځکه بحث نه دی پکار، چې د سولې په قدر او اهميت يوازې هغه مظلوم ولسونه پوهېږي، چې له سهاره تر ماښامه د جنګ په لمبو کې سوځي. هغه يو متل دی چې وايي: «ځمکه هغه سوځي چې اور پرې بل وي». موږ د اروپا او امريکا په سيورې کې ناست افغانان، چې لا هم هر يو د ژوند پر ټولو نعمتونو باندې ناشکره يو، د سولې پر طرحو يوازې د خپلې ليکوالۍ تمرين کوو.

د ۲۰۰۱ ز کال د نومبر په مياشت کې چې د طالبانو نظام، د امريکا او ناټو د بمباريو په وجه ونړېد او طالبان هرې خواته په تېښته کې وو، د طالبانو مشرانو د بُن د جرګې له خوا ټاکل شوي جمهور رييس حامد کرزي ته د تسليمېدو په برخه کې د خبرو غوښتنه وکړه. د امريکا د دفاع وزير ډانلډ رمز فېلډ د زور او قدرت نشې دومره مست کړی و، چې له طالبانو سره خبرې کول يې ونه منل او حامد کرزي ته يې وويل چې امريکا يوازې د هغوی بشپړ تسليمېدل مني او بس. طالبان تېښتې ته مجبور شول، څوک غرونو او څوک لرې کليو ته او څوک پاکستان ته ولاړل. رمز فېلډ د خپل قدرت په وخت کې له افغانستان سره هغه څه وکړل، چې په تاريخ کې به له دوستم سره يو ځای د پښتنو د قصابانو په لېست کې يادېږي. تر ۲۰۰۵ او ۲۰۰٦ ز کال پورې چې لا طالبانو خپلې قواوې بېرته نه وې سره را غونډې کړې او لا جنګونه چنداني نه وو پيل شوي، نو د رمز فېلډ جنرالانو د خپلو ساتېريو لپاره په هلمند، اروزګان، کونړ، ننګرهار او نورو پښتني سيمو کې دلته هلته پر فاتحو، جنازو، ښاديو، ښوونځيو، کليو او کورونو باندې بمبارۍ کولې. په جنګونو کې د وژل شويو کسانو مړي به يې سوځول، پر مړو باندې به يې بولې کولې او د خپلو دغو شرموونکو اعمالو ويډيوګانې به يې هم اخيستې. کله کله به يې لا يوه جنرال کومه يوه نيمه شرموونکې ښښنه هم وغوښته. په دې ترځ کې د اروزګان، کندهار، هلمند، ننګرهار، کونړ او نورو سيمو جنګسالارانو او جنايتکارانو، چې نومونه يې د آنند ګوپال په کتاب کې راغلي دي، د خپلو امريکايي بادارانو د خوشالولو لپاره په سلګونو بېګناه انسانان د طالب جنګياليو په نوم د ګوانتانامو، بګرام او نورو زندانونو او شکنجو قرباني کړل.

له ۲۰۰۸ ز کال وروسته جنګونو دومره زور واخيست، چې نور نو هم د افغانستان حکومت او هم امريکايان د سولې پېشنهادونو او پروګرامونو جوړولو ته مجبور شول. دا چې د پردې تر شا څه تېرېږي او څه تېر شول او لا وروسته به څه رنګ اخلي؛ زه ځکه څه نه شم ويلای چې د نورو افغان ليکوالانو په څېر تقريباً هېڅ اطلاعات نه لرم، خو دومره ويلای شم چې د يوه مظلوم او بې دفاع ولس پر سرنوشت بې رحمانه لوبې کېږي او دغه ولس د نارې او فرياد اورېدو لپاره يوازې د حق متعال دربار لري او بس.

د سولې له حياتي مسئلې سره چې يوازې بې دفاع او مظلوم ولسونه يې په قدر او ضرورت پوهېږي، د ربانيانو تر رهبرۍ لاندې د سولې د مسخره شوې شورا له جوړېدو څخه تر اوسه پورې بهرني دښمنان او کورني ظالمان لوبې کوي. دا پوښتنه به سړی له چا څخه وکړي چې د سولې دغو مضحکو شوراګانو، چې په سلو کې نوي غړي يې قاتلان او مسلکي غله دي، پر دې څه باندې لسو کلونو کې، د سولې لپاره څه کړي دي؟ پوښتنه دا ده چې اصلاً سوله ولې شورا ته ضرورت لري؟ سوله او جنګ خو د حکومت له خپلې پاليسۍ سره اړه لري. حکومت که په رښتيا د سولې غوښتونکی وي، په دوو کلونو کې يې راوستلای شي. دا خبرې اوږده بحثونه غواړي او زه يقين لرم چې که په دې اړه پنځه زره مضامين هم وليکل شي، نه يوازې دا چې دا موضوع به معلومه نه شي، بلکې د يوه او بل ستونې به مو ترخه کړي وي. راشئ د حکومت د تازه اعلاميې په باب چې يوه ورځ مخکې يې طالبانو ته صادره کړې ده، يو څه وغږېږو.

حکومت طالبانو ته د سولې د مذاکراتو لپاره، درې سرې کرښې کش کړې دي، چې له هغو څخه په هېڅ توګه تېرېدلای نه شي. لومړی خو په پښتو کې يو متل دی چې وايي، چا په کلي کې نه پرېښود ده ويل آس مې د ملک په کور کې وتړئ. طالبان وايي، موږ د افغانستان له حکومت سره خبرې نه کوو؛ دا د امريکايانو ګوډاګيان دي او دوی بيا د خبرو لپاره سرې کرښې ورته کشوي. دا خو په هر صورت.

حکومت وايي، له دريو شيانو څخه چې يو يې اسلامي جمهوري نظام دی، بل اساسي قانون او بل ټاکنې دي، نه شي تېرېدلای. دا چې نظام اسلامي جمهوريت دی او که نه دی؛ په دې کې زه هېڅ نه شم ويلای؛ دا د عالمانو او سياست پوهانو کار دی. خو د ملګرو ملتونو او سيګار راپورونه وايي، چې د افغانستان په سلو کې پنځه شپېته سلنه خاوره د حکومت د مخالفينو يا طالبانو په لاس کې ده. کله چې يوه حکومت د خپلې خاورې تر نيمايي زياته برخه له لاسه ورکړې وي او په پاتې هېواد کې، د کابل په ګډون امنيت د ميليونونو ډالرو په لګولو او ټوپکو په زور ساتل کېږي، نو دا اسلامي جمهوري نظام په کوم ځای کې قايم دی، چې له هغه څخه تېرېدل سره کرښه بولي؟ څه باندې يوه مياشت مخکې د امريکا د CNN ټلوېزيون يوې مشهورې خبريالې د بلخ له ولايت څخه، چې د موجود رژيم د تر ټولو لوی پهلوان عطانور شخصي پاچاهي ده، رپوټ ورکړ. د بلخ په ولايت کې يې د طالبانو د قضايي، اداري، روغتيايي او تعليمي چارو، ادارو او فعاليتونو په باره کې رپوټ خپور کړ او د سر په سترګو مو د وسله والو طالبانو پر موټرسايکل سپرو ځوانانو ډلې وليدې، چې په رڼا ورځ ازاد ګرځېدل. د بلخ له ولايت څخه چې حکومت يې د خپل نفوذ او قدرت سيمه بولي، د نورو پښتني سيمو د وضع اټکل کولای شو. نو دا نظام چېرې دی چې له هغه څخه تېرېدل حکومت ته دومره مهم دي، چې سره کرښه يې بولي؟

حکومت وايي چې له اساسي قانون څخه نه شي تېرېدلای. اساسي قانون په رښتيا هم بايد د اداري فساد او مخدره موادو د قاچاق د له منځه وړلو!! او امنيت د ټينګولو!! په څېر د حکومت په لويو لاسته راوړنو کې وشمېرل شي. سړی نه پوهېږي اشرف غني چې يقيناً يې د پوهې سطحه د افغانستان تر پوهانو او عالمانو په زر چنده لوړه ده؛ ځکه چې دی خو د نړۍ دويم متفکر دی!! څنګه په رڼا ورځ د خپل ولس په سترګو ننوزي. د اشرف غني حکومت خو له لومړۍ ورځې تر اوسه پورې او سبا هم نه ده معلومه، د خپل اساسي قانون په خلاف چلېږي. په اساسي قانون کې خو ولسمشر او د هغه دوه مرستيالان ذکر شوي او دندې يې هم معلومې دي. اجرايه رييس او د هغه دوه مرستيالان چې په اونۍ کې يو ځل د ولسمشر په څېر د کابينې غونډه کوي او د هغوی څه باندې دوه سوه مشاورين او په سل هاوو مامورين خو په اساسي قانون کې نشته. دا خو د همدغه اجرايه رياست برکت دی چې حکومت يې پر دوو مساوي او مخالفو برخو وېشلی او هېڅ کار پر مخ نه ځي (دو ګدا دريک ګليم بجنګد دوشاه در يک اقليم نجنګد). په زړه پورې خبره خو دا ده، چې ولسمشر له خپل قانوني واک څخه په ګټنې سره، د هېواد يو لوی مفسد، ضياءمسعود چې په دوبۍ کې په ميليونو ډالره نغد ورسره نيول شوي او ټول جهان پرې خبر و، د ښې حکومتولۍ!! د چارو مشر او وروسته يې د فرمان په زور خپل درېيم مرستيال وټاکو. بيا چې يې خوا ورته بده شوه؛ له بست سره يې موقوف کړ. د حکومت لومړی مرستيال د حضرت صاحب مجددي، خالد بن وليد رشيد دوستم خو په دغو پنځو کلونو کې لږ تر لږه پنځه ځله د خپل حکومت په مخالفت ولاړ شوی او په دې څه باندې دوو کلونو کې يې د کابينې مخ نه دی ليدلی.

د اجرايه رياست د مقام په باب زما يوه پوښتنه دا ده، چې که خدای مه کړه، اشرف غني مړ شي؛ څوک به ولسمشر کېږي؟ اساسي قانون خو وايي چې د ولسمشر د مړينې په صورت کې به د هغه لومړی مرستيال او د هغه د مړينې په صورت کې به دويم مرستيال د ولسمشرۍ چارې پر مخ بيايي. دوستم خو له څه باندې دوو کلونو راهيسې په کابينه کې نشته. که د ولسمشر دويم مرستيال سرور دانش د هغه پر ځای ولسمشر شي، نو بيا خو عبدالله په دې حساب څلورم مقام شو. په داسې حال کې چې هغه خپل ځان له ولسمشر سره مساوي بولي، هره اونۍ د کابينې غونډه کوي او څو ځله يې ويلي دي، چې د اجرايه رياست مقام د چا تحفه نه ده او ده وچ مټ په زور ګټلی دی. البته عبدالله په دې وخت کې جان کېري ته اشاره نه کوي. بله خبره دا ده چې عبدالله حکومتي مقام دی او که د اپوزيسيون مشر؟ ځکه چې هغه دغه ګړۍ د ولسمشر غني د مشورتي لويې جرګې له طرحې سره، چې د هغه غريب نفس پرې وخوت، مخالفت اعلان کړی دی. دغه کمزوری تش په نامه نظام چې هسې يې هم په هېواد کې په سلو کې د پنځه شپېته سلنې خاورې کنټرول له لاسه ورکړی دی، په دې توګه د انارشۍ خواته روان دی. که څه هم چې له مقاماتو سره چنداني غم نشته. که ټوله دنيا اوبه ونيسي، د هيلۍ تر زنګانه دي. څوک چې په ارګ کې د اوسپنې په قلا کې ژوند کوي، هغوی د انارشۍ څه پروا لري.

تر دې لا په زړه پورې د اجرايه رياست د دويم مرستيال حاجي محمد محقق مسئله ده، چې د ولسمشرۍ د راتلونکو ټاکنو لپاره يې له حنيف اتمر سره لاس يو کړی دی او ولسمشر غني هغه له دغه امله، برطرفه کړ. محقق د اشرف غني کابينې ته نه ورځي، مګر د اجرايه رييس د کابينې په ټولو اونيزو غونډو او د وزارتونو د پېشنهاد شويو کړنو په منظوريو کې برخه اخلي. هغه خپل رسمي دفتر او دېوان لري او لکه اشرف غني چې له سره برطرف کړی نه وي بېغمه خپل اجرآات کوي. زه وايم، که د جان کېري لپاره که څه هم چې د اوسني نظام بادار دی، خو ظاهراً خارجي دی، په اساسي قانون کې دومره ځرګند تغيرات راتللای شي او دومره ځرګندې ګډوډۍ منل کېدلای شي، نو له طالبانو سره د احتمالي سولې په خاطر چې يوه حياتي مسئله ده، په اساسي قانون کې کوم جزيي يا کلي تغير ولې کفر بولو او ولې يې بد ومنو؟

پاتې شوه د ټاکنو مسئله چې ولسمشر ته ښايي تر ټولو سرو کرښو مهمه وي؛ ځکه چې امريکايانو وويل چې اشرف غني د افغانستان په ټول تاريخ کې لومړنی هغه مشر دی، چې په مسالمت اميزه توګه واک ته ورسېد او ولسمشر شو. نو دا خو رښتيا هم ډېره لويه لاسته راوړنه ده. نه يوازې اشرف غني؛ بلکې امريکايان يې هم بايد تر ټولو مهمه سره کرښه وبولي. مګر دې خبرې ته د چا پام نه دی چې دا اوسنی اسلامي جمهوري نظام او زموږ د خلکو په اصطلاح، دوه سرى حکومت خو د همدغو ټاکنو محصول دی. د ولسمشريزو ټاکنو په پايله کې اشرف غني ځان ګټونکی اعلان او ډاکټر عبدالله د هغه اعلان ونه مانه. پښتنو د ګل مرجان يې نه مني اصطلاح ورته جوړه کړه او مطبوعات څه باندې دوې مياشتې نانديريو پر سر اخيستي وو، چې له عبدالله سره د قدرت د وېشلو خبره شوه، نو زما ښه په ياد دي چې اشرف غني خپل اواز ته زور ورکړ چې نه يې منو! نه يې منو! نه يې منو! او پلويانو به يې هم په چکچکو بدرګه کړ. بالاخره يې البته د جان کېري په خاطر، ځکه چې پښتانه خو ډېر مېلمه پالونکي دي، هغه ائتلافي حکومت هم ومانه. تر دې خبرې به ځکه را تېر شو، چې دا خبرې په نړۍ کې ډېرې پېښېږي. د امريکا مطبوعات وايي، چې جمهور رييس ډونالډ ټرمپ په دوو کلونو کې څه باندې اووه زره ځله دروغ ويلي دي. نو چې د نړۍ تر ټولو د لوی طاقت د جمهور رييس دغه حال وي، موږ خو لا غريب او د دوستانو لاس ته محتاج خلک يو.

له ولسمشر سره به ځکه د ټاکنو حساب نه کوو، چې هغه خو پاچا دی. خو څه باندې دوه کاله کېږي چې د پارلمان وخت پوره شوی او پکار وه چې د نوي پارلمان لپاره ټاکنې وشي. که ټاکنې له دې امله مهمې وي چې د خلکو د ارادې ښکارندويې دي، نو پارلمان څنګه څه باندې دوه کاله تر خپل وخت زيات خپل کار ته دوام ورکوي؟ څه باندې اووه مياشتې کېږي چې د نوي پارلمان لپاره ټاکنې وشوې. د هغو ټاکنو پايلې تر اوسه معلومې نه دي. ځکه چې وايي دومره زيات او ځرګند غبن پکې شوی دی، چې ان د افغانستان اوسنی حکومت هم پرې شرمېږي. که څه هم چې ويل کېږي، حکومت ځکه پايلې نه شي اعلانولای، چې په رای ګيريو کې د حکومتي مامورينو او مقاماتو د ځرګندو مداخلو سره سره هم د رای ګيرۍ پايلې د حکومت له خوښې سره برابرې نه وې. والله اعلم. زما به له حکومت څخه هيله دا وي، چې هغه سرې کرښې چې دښمنانو ته يې باسي، يو ځل پخپله ورته وګوري، هسې نه دوی پخپله تېرې ورڅخه کړې نه وي.

که څه هم چې د جنګ اور په هېڅ توګه سوړ شوی نه دی او له يوې تر بلې ورځې پورې په هر صورت زور اخلي؛ خو طالبانو، تازه د الفتح په نوم جنګي عمليات اعلان کړل. ګواکې د الخندق عملياتو سم کار نه و ورکړی. حکومت په مقابل کې د خالد په نوم عمليات ورته اعلان کړي دي، چې حکومت وايي يوازې دفاعي بڼه لري. په داسې حال کې چې د سولې په خبرو کې هېڅ ډول پرمختګ نه دی شوی، يا لږ تر لږه مشهود پرمختګ نه دی شوی. حکومت او د سولې لپاره د امريکا استازي زلمي خليلزاد د طالبانو دا نوي اعلان کړي عمليات وغندل او هغه يې د سولې په مقابل کې يو بل خنډ وباله.

په کابل کې له څو اونيو راهيسې د سولې لپاره د مصالحې د رهبرۍ شورا د جوړېدو او په قطر کې له طالبانو سره د خبرو لپاره د يوه باصلاحيته هيئت د لېږلو لپاره خبرې روانې وې. حکومت له خپل پخواني معمول سره سم، د افغانستان تر ټولو بدنام کسان او د سولې تر ټولو سخت دښمنان را وبلل او د سولې د چارو او مذاکراتو د پرمخ بېولو کار يې وروسپاره. مسير ورځپاڼه خو رپوټ ورکوي چې ولسمشر او د هغه نږدې سلاکاران خو په زغرده وايي، چې دوی غواړي د قطر مذاکراتو ته د سولې دښمنان ولېږي. سړی نه پوهېږي چې په دې صورت کې د سولې د خبرو معنی څه ده. البته که حکومت دا خبره کړې هم نه وي او يا سبا ورباندې پښېمانه شي، د مصالحې د وروستۍ ټاکل شوې شورا د غړو ترکيب د مسير ورځپاڼې رپوټ تاييدوي. سوله يو ګام بيا لرې شوه او خدای دې د مظلومو ولسونو پر حال ورحمېږي.



شفیق همدرد

# د هند ټاکنې به څوک وګټي؛ مودي که راهل ګاندي؟

له ۱۹۴۷ ز کال راپدېخوا چې هند له انګلستانه ازادي واخیسته، دا یې ۱۷مه دوره ټاکنې دي چې په دغه هېواد کې کېږي. هندوستان د نړۍ لوی ولسواک او د نفوس له لحاظه، تر چین وروسته دویم لوی هېواد دی چې د سلګونو کلتورونو، مذهبونو، ژبو، عقایدو، قومونو، نژادونو او نورو درلودونکی دی.

د یاد هېواد نفوس له ۱۳ میلیونو څخه ډېر اټکل شوی دی. د دغه اتومي هېواد ډېری اوسېدونکي هندو مذهبه دي؛ خو د مسلمانانو شمېر پکې د پاکستان له ټول نفوس څخه ۴۰ میلیونه ډېر ښودل کېږي. سیکهان، عیسویان، بودایان او د نورو مذاهبو پیروان هم پکې ډېر اوسېږي.

د یاد هېواد د سیاسي نظام ډول فدرالي پارلماني دی. ولایتونه خپل حکومت، پارلمان، قانون او نور مقرارت لري، خو په لویو مسایلو کې د مرکزي حکومت تر اغېز لاندې دي. په دغه هېواد کې په هرو پنځو کلونو کې یو ځل د ولایتونو او مرکزي پارلمان ټاکنې کېږي. مرکزي پارلمان دوه مجلسه؛ لوک سبها(ولسي جرګه) راجیې سبها(مشرانو جرګه) لري چې لوک سبها ټولې ۵۴۵ څوکۍ لري، چې ۵۴۳ یې د خلکو په مستقیمو رایو او دوه کسه یې د ولسمشر له لوري ټاکل کېږي. راجیې سبها ټول ۲۵۰ غړي لري چې ډېری یې د ایالتونو له پارلمانونو څخه غوره کېږي او یوازې ۱۲ تنه یې د ولسمشر له لوري انتصابېږي.

ګوندونه:

د دغه هېواد بنسټ پر سیکولر(غیر مذهبي) فکر ایښودل شوی دی، خو له اتیایمې کلیزې (۱۹۸۰) وروسته کله چې BGP ګوند رامنځ ته شوو؛ مذهب او دین هم سیاست ته ورګډ شول او تر هغې وروسته هندو توند لارو د سیاسي موخو او قدرت ته د رسېدو لپاره، د دین او مذهب لاره ونیوله چې له بده بخته ډېرې خونړۍ پېښې (د بابري مسجد شهادت ۱۹۹۲، د ګجرات د مسلمانانو ټول وژنه ۲۰۰۲ او ...) د همدغه ګوند تر جوړښت وروسته رامنځ ته شوې.

کانګرېس ګوند چې د انګرېزانو د اشغال پر مهال په ۱۸۸۵ ز کال کې جوړ شوی دی، نږدې د ټول هند د اوسېدونکو استازیتوب یې کاوه او هغه مهال یې انګرېزان په سیاسي ډګر کې هم له ستونزو سره مخ کړي وو، چې بیا وروسته انګرېزانو په کانګرېس ګوند کې د اختلاف او انشعاب له رامنځ ته کولو وروسته، یوه ډله د علي جناح په مشرۍ له کانګرېسه را بېله او د مسلم لیګ ګوند یې ورته جوړ کړ.

کانګرېس ګوند له انګرېزانو تر ازادۍ مخکې او وروسته د دغه هېواد لوی ګوند حسابیده. د مهاتماګاندي؛ جواهرلال نهرو، سردار پټیل او ډاکټر عبدالکلام ازاد غوندې مشرانو په شتون کې چا جرئت نه شوای کولای، چې د دغه ګوند پر وړاندې بل ګوند یا خوځښت رامنځ ته کړي. خو کله چې د نهرو د کورنۍ مهم مشران (ایندار ګاندهي او راجیو ګاندهي) ترور شول؛ کانګرېس ګوند له سختو ستونزو سره مخ او په وړاندې یې د BGP ګوند(بهاراتا جنتا پارټي) د اټل بیهاري واجپایي په مشرۍ را وغوړېد او د ایالتونو او مرکزي پارلمان ډېری څوکۍ یې تر لاسه کړې، خو په یوازې سر دغه ګوند په ۲۰۱۴ ز کال پر دې وتوانېد چې په بې ساري توګه د هند د پارلمان ۲۸۲ څوکۍ وګټي او قوي حکومت رامنځ ته کړي.

په تېرو پنځو کلونو کې د مودي حکومت ځینې کارونه وکړل، چې د خلکو توجه یې جلب کړه (د پخوانیو بانک نوټونو پر ځای د نویو رایجه ول، له کروندګرو سره ځانګړې مرستې، د ځمکې په مدار کې د یوې سپوږمکۍ په نښه کول، په پاکستاني کشمیر کې نظامي عملیات، د پاکستان پر ځینو سیمو وروستي هوایي عملیات... ) او ځینې نور چې د خلکو توجه یې راجلب کړه؛ خو د نوموړي په پنځه کلنه واکمنۍ کې چې لا روانه ده، مذهبي افراطیت اوج ته ورسېد. د لړکیو پر وړاندې تاوتریخوالی ډېر شو، د بیان د ازادۍ مخه تر یوه بریده ونیول شوه، له کروندګرو سره کړې ژمنې عملي نه شوې، فساد پراخ شو او همدا راز یوه لویه ستونزه چې مودي ته په دغو ټاکنو کې جوړه شوه، هغه دا ده چې د پاکستان لومړي وزیر عمران خان یو ټوېټ وکړ او قصداً یې دا خبره وکړه، چې که مودي بیا واک ته ورسېږي، نو د کشمیر پر سر به له پاکستان سره خبرې شروع او یوې پایلې ته به ورسېږي. عمران خان دا خبره قصداً د مودي د کمزوري کولو لپاره وکړه او د مودي مخالفینو هم همدا خبره د ده پر وړاندې د یوې وسیلې په توګه وکاروله او مودي په همدې خبره د سیاسي مخالفینو له لوري سخت ځپل کېږي. په همدې اساس ټول خلک پر دې باور دي چې د هند دغه ټاکنې د مودي او د BGP ګوند لپاره د ټول پوښتنې مانا لري.

د هند پارلمانې ټاکنې چې د اپرېل په ۱۱مه پیل شوې، په اوو پړاوونو کې به ترسره شي. اخرې ټاکنې به د مې په ۱۹مه نېټه وي او پایلې به د مې په ۲۳مه اعلان شي او نوی حکومت به د روان کال په جون میاشتې کې پر کار پیل وکړي.

# د مشورتي لویې جرګې تحریم؛

## د ډاکټر عبدالله عبدالله ټیم وایي دغه جرګه د افغانستان ستونزه نه شي حلولی



ډاکټر عبدالله عبدالله او ټاکنیز ټیم یې د سولې له مشورتي لویې جرګې سره پرېکون اعلان کړی دی. وروسته له دې چې امریکا د افغان سولې لپاره هڅې پیل کړې، پر افغان حکومت یې دا شرط کېښود، چې له طالبانو سره به د مذاکراتو لپاره یو واضح، ملي او ټولمنلی دریځ رامنځ ته کوي. همدا راز به افغان حکومت په افغانستان کې ملي او رښتینو شخصیتونو ته زمینه برابروي، چې د سولې په خبرو کې برخه واخلي او خپل نظریات شریک کړي. په همدې تړاو حکومت د سولې رهبري شورا جوړه کړه او تر څنګ یې ټاکل شوې چې په ثور میاشت کې د سولې مشورتي لویه جرګه هم جوړه شي. ډېری سیاسي ګوندونه نه یوازې دا چې د سولې له مشورتي لویې جرګې سره موافق نه دي، بلکې مشورتي لویې جرګې ته هم د شک په سترګه ګوري.

تازه ډاکټر عبدالله عبدالله او ټاکنیز ټیم یې د سولې مشورتي لویه جرګه تحریم کړې ده او په هغه کې یې خپل او د خپل ټیم د غړو ګوندونو ګډون رد کړی دی. د ډاکټر عبدالله عبدالله ټاکنیز ټیم ویلي، چې د افغانستان اوسني وضعیت ته په کتو، د سولې مشورتي لویه جرګه ګټوره او اغېزناکه نه ده، نو ځکه پر دغه جرګه باید وخت ضایع نه شي. د عبدالله په خبره، جرګه ډېرې ستونزې لري، خو حکومت له سیاسي ګوندونو او ټاکنیزو ټیمونو سره په دې اړه کافي او د اړتیا وړ سلا مشورې نه دي کړې.

بلخوا رسنۍ وایي چې د ملي یووالي حکومت مشران د مشورتي لویې جرګې په اړه په خپل منځ کې توافق نه لري، نو ځنګه به وکړی شي چې دغه جرګه په هېواد کې د روانو ستونزو د حل او سولې په اړه بریالۍ پرېکړه وکړي. د اجرایه رییس ډاکټر عبدالله عبدالله په مشرۍ د ثبات او همپالنې ټیم د یکشنبې په ورځ د یوې اعلامیې په خپرولو سره دا هم ویلي، چې جرګه ډېرې ستونزې لري او په اړه یې له ډېرو سیاسي ګوندونو سره ډېرو مشورو ته اړتیا وه. د ډاکټر عبدالله د ټاکنیز ټیم په اعلامیه کې راغلي: ((موږ د ثبات او همپالنې ټیم، نه په دې ټیم کې د شاملو احزابو او سیاسي شخصیتونو او نه د حکومت په کچه، تر دې دمه د دې ناستې اړوند د مشورې طرف نه و او په عین حال کې د دې ناستې اړوند قانع کوونکي دلایل هم نه لرو، نو د ډاکټر عبدالله په مشرۍ د ثبات او همپالنې ټیم د سولې مشورتي جرګې تر عنوان لاندې ناسته کې ګډون نه کوي)).

د مشورتي لویې جرګې په اړه داسې اندېښنې موجودې دي، چې ښایي ولسمشر غني ترې د خپل واک د مودې غځولو په برخه کې ګټه واخلي. د اجرایه رییس په مشرۍ ټاکنیز ټیم له پرېکون سره هممهاله داسې رپوټونه دي، چې ښایي په نږدې ورځو کې یوه ستره برخه سیاسي مشران او احزاب هم له مشورتي لویې جرګې سره خپله مقاطعه اعلان کړي.

بلخوا د حزب اسلامي مشر ګلبدین حکمتیار هم د دې جرګې په اړه خپل نظر څرګند کړی دی. نوموړي ویلي چې حکومت هڅه کوي، څو د سولې په برخه کې په ډېرو مواردو کې د خپل فکر او خپلې ډلې کسان ځای پر ځای کړي. حکمتیار وایي، حکومت د سولې په ټولو غونډو او شوراګانو کې حکومتي کسان ځای پر ځای کړي، په داسې حال کې چې سوله یوه ملي مسئله ده او په هغه کې د بې طرفه او رښتینو خلکو حضور ته اړتیا ده. ګلبدین حکمتیار خبرداری ورکړی چې که حکومت د سولې په برخه کې د جوړېدونکو کنفرانسونو او جرګو بې طرفۍ ته درناوی ونه کړي او یا پکې د خپلو کسانو د ځای پر ځای کولو هڅه وکړي، نو د هېواد روان وضعیت به نور هم ترینګلی شي. هغه حکومت د سولې د ډېرې هڅو پر انحصار هم تورن کړی دی.

# پامپیو: د ایران له پیسو په جنوبي امریکا کې د ناوړه موخو لپاره کار اخیستل کېږي



د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو ویلي، په دې کې شک نشته چې ایران په جنوبي امریکا کې مالي حضور لري او دغه هېواد لاهم یو نړیوال ګواښ دی.

پامپیو له پاراګوای څخه د لیدنې پر مهال له امریکا غږ سره په مرکه کې ویلي: «د ایران له پیسو په جنوبي امریکا کې د ناوړه موخو لپاره کار اخیستل کېږي او دغه هېواد د حزب الله، لویو جنایي سازمانونو او په ټوله سیمه کې د تروریستي اعمالو ملاتړ کوي».

نوموړي په خپلو خبرو کې د ایران ماهان هوایي شرکت ته هم اشاره کړې، چې تېره اونۍ یې له تهرانه د وینزویلا پلازمېنې کاراکاس ته مستقیمې الوتنې پیل کړې دي. دغه هغه هوایي شرکت دی چې واشنګټن په منځنۍ ختیځ کې د جګړو سیمو ته د پوځي تجهیزاتو د لېږدولو په تور پرې بندیزونه لګولي دي.

پامپیو دا په جنوبي امریکا کې د ایران مداخله بللې او ویلي یې دي، چې هغه د جنوبي امریکا د خلکو ګټې نه خوندي کوي او متحده ایالتونه یې پر وړاندې اقداماتو ته تیار دي.

نوموړي زیاته کړې چې ایران په نړۍ کې د ترهګرۍ ستر ملاتړی هېواد او یو نړیوال ګواښ دی.

دا په داسې حال کې ده چې ایران له اوږدې مودې راهیسې په سیمه کې له وینزویلا سره چې په دې وروستیو کې له سیاسي شخړو سره مخ دی، نږدې اړیکې لري.

د وینزویلا اوسنی سوسیالېست ولسمشر نېکولاس مادورو په واټونو کې د مظاهرو او له خوان ګوایدو سره چې ځان یې په خپله د دغه هېواد ولسمشر اعلان کړی، د سیاسي شخړو له امله په قدرت کې د پاتې کېدو لپاره له ستونزو سره مخ دی.

روسیه، ایران، چین او کیوبا هغه هېوادونه دي، چې د مادورو ملاتړ کوي، خو د متحده ایالتونو په ګډون، ځینو غربي هېوادونو له خوان ګوایدو خپل ملاتړ اعلان کړی دی.

مادورو چې په ۲۰۱۳ ز کال کې د پخواني ولسمشر هوګو چاوېز تر مړینې وروسته قدرت ته رسېدلی، د تېر کال د مې میاشتې په ټاکنو کې بریالی اعلان شوی او د دویم ځل لپاره یې د ولسمشرۍ لوړه کړې ده.

د دغه هېواد اپوزیسیون چې له دغو ټاکنو سره یې پرېکون اعلان کړی او هغه یې له درغلۍ ډکې بللې دي، په مقابل کې یې پراخې مظاهرې کړې دي.


پامپیو چې دغه ټاکنې یې شرموونکې بللې، ویلي چې مادورو او همکارانو یې دغه هېواد وران کړی دی.

## د کتــاب خبــرې

# د لوی فکر جادو

◎ لیکوال: دوکتور ډېوېډ شوارتز
◎ ژباړن: میـراحمد یـاد

### اتم ځپرکی
### خپل ذهنیت د ځان ملاتړی کړئ




د خلکو په رښتینې ستاینه ترې مننه کولای شئ. خلک هڅونه غواړي، که ماشوم وي، که ځوان وي او که بوډا ... ټول غواړي کار يې سم وګڼل شي او ارزښت ورکړل شي. داسې نه ده چې ګني یوازې لویې بریاوې به ستایئ. د خلکو ورې چارې وستایئ. څېره يې وستایئ. کارونه يې وستایئ. ورځنۍ چارې يې وستایئ. نظریات يې وستایئ. زیار يې وستایئ. خپلو ملګرو ته لیکونه ولېږئ او د بریاوو مبارکۍ ورکړئ. ځینې وخت ورته د احوال اخیستو لپاره زنګ ووهئ، کله کله يې لیدو ته سر ور ښکاره کوئ او د سفر سختې پر ځان منئ.

خلک په ډېرو ښو، عادي او بې ارزښته مه وېشئ او په دې چاره خپل وخت او ذهني قوت مه ضایع کوئ. تبعیض او توپیر مه کوئ. تعصب مه کوئ. له پیاده نیولې تر رئیسه ټولو ته درناوی کوئ، ټول مهم دي. د خلکو سپکول تاسې نه درنوي.

۲. خلکو ته په نوم غږ کوئ. ځیرک تولیدوونکي هر کال سلګونه ډوله بکسې، قلمونه، کتابونه او نور شیان یوازې له دې امله پلوري، چې د خلکو نومونه پرې لیکي. خلک په خپل نوم غږ ډېر خوښوي. دا په انسان کې د سرلوړۍ احساس پیدا کوي.

دا دوه ټکي تل یاد ساتئ: نومونه سم اخلئ او سم يې لیکئ. که مو د چا نوم غلط واخیست یا ولیکه، هغه به داسې وګڼي چې تاسې ته هېڅ ارزښت نه لري.

بله دا چې: له نابلده خلکو سره د خبرو پر وخت يې له نوم سره مناسب عنوانونه هم ورزیاتوئ، مثلاً ښاغلی، اغلې، صیب ... په اداره کې عادي چپړاسي هم صیب ویلو ته خوشالېږي. ستاسې همکار که په هر موقف کې وي، خو دا يې خوښېږي چې په درنوند نوم یاد شي. دا واړه عنوانونه په خلکو کې د ارزښت او درناوي احساس پیدا کوي.

۳. درناوی مه انحصاروئ، پانګونه پرې وکړئ. څو ورځې مخکې د خرڅلاو یوه ورځنۍ غونډه کې مېلمه وم. په هغه مازدیګر رئیس د دوو برخو مشرانو ته ډالۍ ورکولې، د دوی تر لاس لاندې سیمو کې تېر کال ډېر پلور شوی و. بیا يې هر یوه ته د وینا پنځلس دقیقې وخت ورکړ، په وینا کې يې باید دا ویلي وی چې شرکت يې څنګه دا برې ترلاسه کړی دی.

لومړي کس دې شرکت ته درې میا شتې مخکې راغلی و، دی چې وینا ته پاڅېده، دا يې تشریح کوله چې دومره لوی کار يې څنګه کړی دی.

موږ يې پر دې پوهولو چې د ده په هلو ځلو خرڅلاو دومره لوړ شوی دی، ویل يې: (زه چې راغلم هر څه ګډوډ وو، ما ډېر کار وکړ، هر څه مې سم کړل ... دومره اسانه کار نه و، خو ما بیا هم هر څه لاس کې واخیستل او کنټرول مې کړل.)

ده به چې خبرې کولې، د پلورونکو په څېرو کې به يې د خپګان نښې له ورایه ښکارېدې. مشر يې خپل صفت کاوه او دوی په هماغه صفت کې ورک شول. د دوی هلو ځلو پر خرڅلاو مستقیم اغېز کاوه، خو دوی ته چا ارزښت ور نه کړ او یادونه يې ونه شوه.

ورپسې بل کس وینا ته پورته شو، د ده وینا بدله وه، لومړی يې دا وویل چې برې يې د پلورونکو د هڅو او هلو ځلو په برکت دی. بیايې يې هر یو جلا جلا ودراوه او د هغوی له هڅو يې مننه وکړه.

اوس تاسې خپله دې توپیر ته وګورئ. لومړي کس ټول ویاړونه یوازې د ځان کړل او د نورو همکارانو زړونه يې مات او له کاره تور کړل. خو دویم کس دا ویاړ نورو ته ورکړ، یعنې پایلې يې ډېرې کړې. دا سړی پوهېده چې ستاینه داسې ده لکه پیسې، په دې هم پانګونه کېدای شي او ګټه کولای شي. دی پوهېده چې که ترلاس لاندې خلکو ته ارزښت ورکړل شي، نو کال ته به مو کارونه لا ډېر ښه وي.

دا یاد ساتئ چې ستاینه او درناوی قدرت دی. که له تاسې پورته خلک تاسې ستایي له دې ګټه واخلئ. دا ستاینه تر لاس لاندې خلکو ته ورکړئ. هغوی وهڅوئ چې خپله ګټورتیا زیاته کړي. تاسې چې خپل ویاړونه هغوی سره وېشئ، هغوی پوهېږي چې کار ته يې له زړه ارزښت ورکوئ.

دلته مې یو ورځنی تمرین راوړی دی، دا تمرین ډېره ګټه لري.

هره ورځ له ځانه پوښتنه وکړئ چې: (نن د خپلې کورنۍ او ژوند ملګري/ملګرې خوشالولو لپاره څه کولای شم؟)

دا به ډېر ساده کار وي، خو اغېز يې ډېر زیات دی. یو مازدیګر مې د خرڅلاو یوې غونډې ته پر دې خبرې کولې چې: (بریالیتوب لپاره به کورنۍ چاپېریال څنګه جوړوو؟)

د موضوع د ښه روښانولو لپاره مې له متاهلو ګډونوالو پوښتنه وکړه چې: (په وروستي ځل مو بې له اختر، کلیزې یا بل مناسبت پرته، د ژوند ملګري/ملګرې ته کله ډالۍ ورکړې؟)

د هغوی ځوابونو زه خپله حیران کړم، پنځه دېرش تنو پکې یوازې یوه میاشت مخکې خپلو مېرمنو ته ډالۍ ورکړې وې. زیاترو يې (درې او شپږ) میاشتې یادولې او له یو پر دربیمې برخې ډېرو يې ویل چې هېر مو دي. ښه فکر وکړئ، په دې کې هم ځینې سړي ګیله کوي چې ښځې يې ورسره ولې سم چلند نه کوي.

ما ویل چې دا خلک د یوې کوچنۍ ډالۍ په ارزښت پوه کړم. په هماغه مازدیګر مې یو ګل پلورونکي ته وویل، چې له درس ختمېدو څو شېبې مخکې صنف ته راشي، څنګه چې راغی ګډونوالو ته مې وویل: (نن درته دا ښیم چې یوه کوچنۍ او ناڅاپي ډالۍ ستاسې د کور په چاپېریال څه اغېز کوي. ما دې ګل پلورونکي سره خبره کړې چې تاسې هر یوه ته یو د ګلابو ګل درکړي او بیه به يې نیم ډالر وي. نو که تاسې دا پیسې نه لرئ یا داسې فکر کوئ چې مېرمن مو په دې پیسو نه ارزي، نو دا پیسې به ستاسې پر ځای زه ورکړم.) **دوام لري...**

# تونګا

حشمت الله نوري

تونګا د استرالیا د لویې وچې په منځنۍ برخه کې په جنوب لوېدیځ ارام سمندر کې د فیجي ختیځ او د ساموا جنوب ته د لوېدیځ طول البلدونو د ۱۷۳ او ۱۷۷ درجو او د جنوبي عرض البلدونو د ۱۵ او ۲۳ درجو ترمنځ موقعیت لري.

د دغه هېواد پراخوالی ټولټال ۲۸۸ میل مربع ته رسېږي، چې له دې پلوه د نړۍ ۱۹۰یم لوی هېواد دی.

تونګا له څلورو خواوو څخه د ارام سمندر اوبو کلابنده کړې ده. له دې سره سره، لرې پراته ګاونډیان يې بیا دا دي: ختیځ ته يې د کوک ټاپوګان، لوېدیځ ته يې د فیجي ټاپوګان، جنوب ته يې د فریندلي ټاپوګان او شمال ته يې د ساموا هېواد موقعیت لري.

دغه هېواد ډېره توده او لنده هوا لري، له ارام سمندر سره د ګاونډیتوب له امله په دغه هېواد کې ډېر باران اوري، چې اندازه يې له یوې سیمې تر بلې توپیر کوي.

دغه هېواد د ۱۷۰ اورغورځوونکو او مرجاني ټاپوګانو یو ټولګی دی، چې یوازې ۳٦ ټاپوګان يې د استوګنې وړ دي. دغه ټاپوګان چې د پولې نیزي ټاپوګانو له ډلې څخه دي، د ارام سمندر په جنوب لوېدیځه برخه کې د کوک فیجي او ساموا ټاپوګانو ترمنځ موقعیت لري.

د تونګا پلازمېنه نوکوالوفا ښار دی او دغه هېواد څه باندې ۱۰۰ زره کسه نفوس لري، چې په هر کیلومتر مربع سیمه کې يې ۱۴۳ کسان ژوند کوي.

د دغه هېواد ۳۰ سلنه وګړي په ښارونو او ۷۰ سلنه يې بیا په کلیو او بانډو کې ژوند کوي. د دغه هېواد د قانون له مخې هره کورنۍ په ټول عمر کې یوازې د څلورو ماشومانو د درلودو حق لري.

د تونګا رسمي ژبې انګلیسي او تونګایي دي، خو لیکدود يې بیا لاتیني دی. دغه هېواد د اداري وېش له پلوه په دریو برخو وېشل شوی دی.

په دغه هېواد کې پاچایي میراثي ده، د دغه هېواد لومړی وزیر او د هغه مرستیال د ولسي جرګې د غړو له منځ څخه ولسي جرګې ته پېژندل کېږي، څو د خلکو د استازو رایه واخلي. د تونګا د کابینې وزیران د لومړي وزیر په وړاندیز د پاچا له خوا ټاکل کېږي. د دغه هېواد پاچا یوه سلطنتي شورا لري، چې په هغه کې پاچا، لومړی وزیر او د کابینې ټول وزیران شامل وي.

د تونګا ولسي جرګه ۲٦ غړي لري، چې نهه يې د نامتو، مخورو او مشرانو او ۱۲ يې بیا د خلکو استازي دي، چې د څلورو کلونو لپاره کار کولای شي.


په دغه هېواد کې د رایې ورکولو سن ۲۱ کاله او رایه ورکول پکې عمومي دي.

د تونګا قضایي سیسټم د انګلستان د قضایي سیسټم له مخې جوړ شوی دی.ستره محکمه د دغه هېواد تر ټولو لوړ قضایي ارګان دی، چې مشر او قاضیان يې د پاچا لخوا ټاکل کېږي. د دغه هېواد قاضي القضات د هېواد د ټولو محکمو چارې د هغه قانون له مخې پرمخ وړي، چې په ۱۹۸۸ ز کال کې کې جوړ شوی دی.

د تونګا پاچا دا حق لري چې د هېواد د سترې محکمې مشر او نور مشران قاضیان له هېواد څخه د بهر قاضیانو له منځه هم وټاکي.

د ملګرو ټاپوګانو ولسواکه ټولنه، د خلکو ولسواک غورځنګ او د تونګا د بشري حقونو او ولسواکۍ غورځنګ د دغه هېواد مهم او نفوذ لرونکي ګوندونه دي.

تونګا د جنوبي ارام سمندر د نورو ټاپوګانو په شان وړوکی، خو د ازاد بازار پرمختللی اقتصاد لري او کرنیز محصولات يې د صادراتو د ملاتیر جوړوي. کرنه د دغه هېواد په اقتصاد کې لویه ونډه لري. د کرنې د محصولاتو او کبانو صادرات د دغه هېواد د ټولو صادراتو ۷۰ سلنه برخه جوړه وي.



تونګا هر کال له نیوزیلنډ او نورو هېوادونو څخه ډېر خوراکي توکي واردوي. سیلانیان هر کال دغه هېواد ته ډېر بهرني اسعار راوړي. په ۲۰۱۰ ز کال کې نږدې څلوېښت زره سیلانیان دغه هېواد ته تللي وو. د تونګا دولت اوس هم د خپلې سوداګرۍ د کسر د پوره کولو لپاره بهرنیو اسعارو او د هغو تونګایي کارګرانو عوایدو ته اړتیا لري، کوم چې بهر کار کوي. دغه هېواد په دې وروستیو کې د اقتصاد د خصوصي سکټور ودې او هڅونې ته ملا ترلې او بهرني پانګه وال په دغه هېواد کې ګرندي کار ته رابولي.

د تونګا دولت پتېیلې ده چې د ښوونې او روزنې او عامې روغتیا په برخه کې ډېره پانګه‌ونه وکړي. له دې ټولو سره سره، دغه هېواد د اقتصاد پیاوړې بنسټونه او د ټولنیزو خدمتونو پراخه شبکه لري.

د تونګا ۲۵ سلنه ځمکه د کرلو وړ ده، د دغه هېواد پاتې نوره خاوره ځنګلونو، غرونو، ښارونو او د استوګنې کلیوالو سیمو نیولې ده. د دغه هېواد د ځنګلونو لرګي د هېواد اړتیا نه شي پوره کولای، نو له همدې امله يې دولت هڅه کوي، څو هغه ځمکې چې د کرنې وړ نه دي، په ځنګلونو وپوښي او د دغه کار لپاره يې اوږدمهاله پلانونه جوړ کړي دي.

د دغه هېواد ۷۰ سلنه خلک د کرنې په سکټور کې پر کار بوخت دي او د هېواد ۳۵ سلنه ناخالص کورني تولیدات هم له همدغه سکټور څخه لاس ته راوړي.

لرګي، ځمکني بادم، قهوه، تورمرچ، غلې دانې، کدو، کیلې، میوې، سابه، هکۍ، غوښه او لبنیات د تونګا مهم کرنیز محصولات بلل کېږي.

د تونګا دولت د UN، جاپان، استرالیا او د اسیا پراختیایي بانک په مرسته، د کب نیولو په سلګونو بېړۍ جوړې کړې دي او هغه يې پر خپلو کب نیوونکو وېشلې دي. همدا راز د دغه هېواد دولت په خپلو ځینو ساحلي سیمو کې د کبانو د پروسس او کنګل ساتلو خورا پرمختللي ځایونه جوړ کړي دي. دغه هېواد په کال کې په منځنۍ توګه تر ۲۰۵۰ ټنو پورې کبان نیسي.

د سیلانیانو عواید له کرنې څخه وروسته د تونګا د حکومت د عوایدو غټه سرچینه بلل کېږي. د دغه هېواد طبیعي ښکلا، ښګلن سواحل او ښایسته هوټلونه هر کال ډېر سیلانیان دغه هېواد ته جلبوي. په تونګا کې پر دولتي هڅو سربېره، خصوصي شرکتونه او د پاسفیک د جنوب د سیلانیانو ټولنه هم دغه هېواد ته د سیلانیانو د وربللو چارې سرته رسوي.

هانګ کانګ، امریکا، نیوزیلنډ، فیجي، ساموا او جاپان د دغه هېواد لوی تجارتي شریکان دي. دغه هېواد اته هوایي ډګرونه لري، چې دوه يې په پاخه او عصري ډول رغول شوي دي.

د تونګا د ټلیفون کود ۳۱۰۰۰ او د انټرنېټ کود يې بیا TO دی، چې ټولټال يې لس زره کسان ورته لاسرسی لري.

په دغه هېواد کې پنځه ټلوېزیوني شبکې فعالیت کوي. د دولتي سکټور ترڅنګ، خصوصي سکټور ته هم په رسنیز ډګر کې د فعالیت اجازه ورکړل شوې ده.

په دغه هېواد کې له ۱۵ کلونو څخه د لوړ عمر لرونکي کسان، نارینه او ښځې دواړه پر لیک او لوست پوهېږي. په تونګا کې زده کړې له ٦-۱۴ کلنو ماشومانو لپاره وړیا او جبري دي.

تونګا کلمه په پولي نیزیایي ژبه کې د سویل یا جنوب مانا ورکوي. تاریخي څېړنې وایي چې څه د پاسه ۳۰۰۰ کاله مخکې د تونګا په ځینو اوسنیو ټاپوګانو کې خلک اوسېدلي دي. داسې ښکاري چې دا خلک له فیجي او ساموا څخه دغه هېواد ته کوچېدلي او یو پېچلی ټولنیز جوړښت يې رامنځ ته کړی دی.

د لسمې زېږدیزې پېړۍ په دویمه نیمایي کې اهولیتو د تونګا د ځینو اوسنیو ټاپوګانو واکمن وو، په دغه هېواد کې د بېلابېلو مذاهبو دودېدل، د دغو ټاپوګانو د اوسېدونکو کوچنۍ ټولنه پر څو ډلو ووېشله او په دې توګه د مذهبي ستونزو او تعصبونو بنسټ کېښودل شو. هالنډیان لومړني اروپایان وو چې په ۱٦۱٦ ز کال کې تونګا ته ورسېدل. دوی خپلې بېړۍ د دغه هېواد په سواحلو کې ودرولې او په خپله د ټاپو منځ ته لاړل او له سیمه ییزو خلکو سره يې ولیدل. هغه وخت تونګایانو پرمختللی ټولنیز سیسټم درلود او پاچایانو يې ځانونه د لمر زامن بلل. انګلیسي نامتو سمندري سیلاني جمیزکوک په ۱۷۷۵ ز کال کې تونګا ته ورسېد او دغه ټاپوګان يې دوستانه ټاپوګان وبلل.

په کوک پسې وروسته، د المان، اسپانیا، انګلستان او امریکا ځینو سیلانیانو سوداګرو او مسیحي مبلغینو تونګا ته تګ راتګ پیل کړ.

اروپایانو دغه هېواد ته د تګ له همغو لومړنیو ورځو څخه د دغو ټاپوګانو پاچایانو ته په درنده سترګه وکتل او وروسته يې د دوی واکمنې په رسمیت وپېژندله. د دغه هېواد بېلابېل ټاپوګان د ۱۷مې زېږدیزې پېړۍ په نیمایي کې سره یو ځای شول او یو سیمه ییز مشر يې د لومړي جورج په نامه خپل پاچا یا واکمن وټاکه. د قبایلو مشرانو شورا يې جوړه کړه، کورنۍ جګړه يې پای ته ورسوله، سیاسي ثبات يې ټینګ کړ، خلک يې اقتصادي فعالیتونو ته راوبلل او د هېواد لپاره يې د اساسي قانون د جوړولو غږ وکړ. د دغه قانون له مخې، پاچا د خپلو اختیاراتو لمن لږ ټوله کړه، د خلکو د حقوقو او مالکیت درناوی وشو او د ځمکې د اصلاحاتو د قانون له مخې، هر تونګایي وګړي ته اته جریبه د کرنې ځمکه ورکړل شوه.

په ۱۸۸۸ ز کال کې د المان، انګلستان او امریکا هېوادونو د لومړي جورج حکومت او د تونګا خپلواکي په رسمیت وپېژندله. ۱۲ کاله وروسته انګلستان د تونګا له مشرانو سره داسې یو تړون لاسلیک کړ، چې دغه خپلواکه حکومت د انګلستان تحت الحمایه ومنله. په ۱۹۱۸ ز کال د لومړي جورج مشره لور دربیمه ملکه سالوت تاپو واک ته ورسېده. د ملکې د پاچایۍ په ۴۷ کلونو کې د تونګا او انګلستان اړیکې ډېرې نږدې شوې. ملکې سالوت تاپو د تونګا ښځو ته حق ورکړ، چې ځانونه د ولسي جرګې غړیتوب ته نوماند کړي او یانورو نوماندانو ته رایه ورکړي.

په ۱۹٦۷ ز کال کې د تونګا کوروا‌کي بشپړه او درې کاله وروسته، د مشترک المنافعو هېوادونو د غړي په توګه خپلواکه شوه.

د افغانستان د بهرنیوچارو وزارت د ستراتېژیکو اړیکو په کتاب کې د تونګا نوم نشته، نو داسې معلومېږي چې دغه دواړه هېوادونه خپلو کې هېڅ راز اړیکې نه لري.

د کابل او نوکوالوفا ښارونو ترمنځ د وخت توپیر ۸:۳۰ ساعته او د هوا له لارې بیا واټن ۱۳۷۵۱ کیلومترو ته رسېږي.

## اقتصاد

# بهرنیو چارو وزارت له پاکستانه د کابل- ډیلي ترمنځ د فضايي حریم د پرانیستو غوښتنه کړې ده



بهرنیو چارو وزارت له پاکستانه غوښتي چې خپل فضايي حریم د کابل او ډیلي ترمنځ د هوايي پروازونو پر مخ بېرته پرانیزي.
د بهرنیو چارو سرپرست وزیر صلاح الدین رباني په دې اړه په کابل کې د پاکستان له سفیر سره په لیدنه کې له دغه هېواد څخه یاده غوښتنه کړې ده.
دا په داسې حال کې ده چې پاکستان له هند سره تر وروستي کړکېچ وروسته، خپل فضايي حریم د لنډمهال لپاره د ټولو بهرنیو پروازونو پر مخ وتاړه چې له نږدې دوو میاشتو راهیسې لا هم دغه ستونزه نه ده حل شوې.
د بهرنیو چارو وزارت ویاند صبغت الله احمدي امریکا غږ ته ویلي، چې د پاکستان سفیر په دغه لیدنه کې ژمنه کړې، چې فضايي حریم به یې ډېر ژر د افغانستان د پروازونو پر مخ پرانیستل شي.
په ورته وخت کې د هوايي چلند خپلواکې اداري چارواکو ویلي، چې د افغانستان د هوايي پروازونو پر مخ د پاکستان د هوايي فضا بندېدو دوام پر دغه مسیر تلونکو مسافرو ته زیاتې ستونزې پیدا کړې دي.
د دې ادارې رییس قاسم وفایزاده په کابل کې د یوه مطبوعاتي کنفرانس پر مهال ویلي، افغانستان نه غواړي چې په یو سیمه ییز کړکېچ کې ورگډ شي.
نوموړي زیاته کړې: «په هغه صورت کې که چېرې پر ټولو بهرنیو پروازونو د پاکستان د فضايي حریم بندیز لرې شي او یوازې پر افغانستان دغه بندیزونه دوام ولري، موږ به هم پر خپل هوايي حریم د پاکستان د پروازونو پر تړل کېدو غور وکړو».
دا په داسې حال کې ده چې افغان هوايي شرکتونه د یادې ستونزې تر رامنځته کېدو وروسته، د پاکستان پر ځای د ایران د فضا له لارې هند ته پروازونه کوي، چې دغه لار د پاکستان په پرتله زیات واټن او وخت نیسي، چې له امله یې لگښت ته په کتو، د ټکټونو بیې هم جگې شوې دي.
د هوايي چلند خپلواکې اداري چارواکو دغه راز ویلي، چې د دې ستونزې د هوارې لپاره ټاکل شوې، چې د لارې د لنډوالي لپاره د چین د فضايي حریم له لارې ډیلي ته د پروازونو نوی مسیر رامنځته شي.

# د ټاکنو کمېسیون: د ولسوالیو شوراگانو ټاکنې د تلې په شپږمه نه کېږي



د ټاکنو خپلواک کمېسیون ویلي، د ولسوالیو شوراگانو ټاکنې د ولسمشریزو او ولایتي شوراگانو له ټاکنو سره یو ځای نه ترسره کېږي.
د دغه کمېسیون کمېشنرې رحیمې ظریفي تېره ورځ په ټاکنو کې د ښځو د ونډې د مؤثریت په تړاو، د همغږۍ یوې غونډې ته په وینا کې د دغه ځنډ لامل د وخت کموالی یاد کړی دی.
نوموړې زیاته کړې: «په خواشینۍ سره چې د میزان د شپږمې په انتخاباتو کې د ولسوالیو شوراگانو انتخابات شامل نه دي، موږ یوازې د جمهوري ریاست، ولایتي شوراگانو او د غزني د ولسي جرگې انتخابات ترسره کوو، ځکه په انتخاباتو کې تعدیل او بایومټریک موضوع وخت ته اړتیا لري، که چېرې موږ د ولسوالیو شوراگانو انتخابات ورسره یو ځای کول، ډېر وخت یې نیوه او د خلکو اندېښنې زیاتېدې».
نوموړې ټینگار کړی چې ولسمشریزې ټاکنې به د ولایتي شوراگانو او د غزني د ولسي جرگې له ټاکنو سره د تلې په شپږمه ترسره شي.
دا په داسې حال کې ده چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون پخوانیو غړو هم ویلي وو، چې روانو حالاتو ته په کتو، د ولسوالیو شوراگانو او جمهوري ریاست ټاکنې په یوه وخت نه ترسره کېږي.
د ټاکنو خپلواک کمېسیون مشرې په دې ناسته کې د تېرې یوې نیمې میاشتې د کاري فعالیتونو په اړه معلومات ورکړي او په دغه کمېسیون کې یې د هر اړخیزو اصلاحاتو ډاډ ورکړی دی.
د دغه کمېسیون مشرې حواعلم نورستانۍ په ټاکنو کې د ښځو پر ونډې ټینگار کړی او له ښځو یې غوښتي چې د تېرو ټاکنو په پرتله په راتلونکو ټاکنو کې په زیاته کچه برخه واخلي.
نوموړې په ټاکنو کې امنیتي ستونزې او په ټولنه کې حاکم دودونه د ټاکنو په مخ کې له پرتو ستونزو یاد کړي، چې په خبره یې له اړوندو ادارو سره به دا ستونزه هواره کړي.
په ورته وخت کې پر ټاکنو د څار بنسټونو ویلي، چې دوی هم دا وړاندوینه کړې وه چې د وخت او تجربې د کموالي او ځینو نورو ستونزو له امله، دغه کمېسیون د ولسوالیو شوراگانو د ټاکنو د ترسره کولو وړتیا نه لري.
د ازادو او عادلانه ټاکنو د بنسټ یا فیفا اجرایوي مشر یوسف رشید په دې اړه ویلي: «د دغو انتخاباتو د نه ترسره کېدو یو مستقیم اغېز د سنا پر مجلس دی، ځکه یوه برخه بشپړه نه ده، بله اغېزه یې په لویې جرگې ده. په ټوله کې په ولسوالیو کې ډیموکراسي له ستونزو سره مخ ده. په ولسوالیو کې ډیموکراسي نه پلې کېږي، دا ټولې یې اغېزې دي».

# پانگوال: که مو امنیت ته پاملرنه ونه شي، خپلې پانگې به بهر ته وباسو



افغان پانگوالو او سوداگرو ویلي، په هېواد کې د پانگوالو د تښتونو او گواښلو پېښې د تېرو کلونو په پرتله څو برابره زیاتې شوې، چې د پانگوالو او تولیدي فابریکو پر فعالیتونو یې ناوړه اغېز کړی دی.
دوی ویلي، که یې امنیت ته پاملرنه ونه شي، ډېری افغان سوداگر او پانگوال به نه یوازې دا چې له فعالیتونو به لاس واخلي، بلکې خپلې پانگې به بهر ته وباسي.
بلخوا د سوداگرۍ او صنایعو خونې مرستیال خان جان الکوزي ازادي راډیو ته ویلي، چې په تېر یو کال کې په ټول هېواد کې د پانگوالو د تښتونې ۸۰ پېښې رامنځته شوې دي.
هغه ویلي: «په دې وروستیو کې په کابل، ننگرهار، هرات، مزارشریف، کندوز او کندهار کې د اختطاف پېښې ډېرې شوې دي. زموږ د شمېرو له مخې، په تېر ۱۳۹۷ لمریز کال کې له اتیاوو زیات لوی اختطافونه شوي دي، همداشان د روان کال د حمل په میاشت کې موږ په ټول افغانستان کې د اختطاف ۱۲ قضیې لرو چې موږ ثبتې کړې دي».
نوموړي زیاته کړې چې د ناامنۍ له امله په تېر یوه کال کې ۱۲ سوه افغان پانگوال یوازې ترکیې ته تللي دي او شاوخوا ۱۲ سوه میلیونه ډالره پانگه یې له ځانونو سره لېږدولې ده.
په ورته وخت کې د صنایعو او کانونو د خونې چارواکو هم د سوداگرو او پانگوالو د تښتولو او گواښلو په تړاو اندېښنه ښودلې ده.
دوی ویلي، امنیتي ارگانونو ته د دوی له ټینگار او وړاندیزونو سره سره د هېواد د پانگوالو او سوداگرو امنیت نه یوازې دا چې خوندي نه شو، بلکې ورځ تر بلې د خرابېدو په حال کې دی.
د دې خونې مرستیال عبدالرحیم فیضان ویلي، که حکومت د دوی د ستونزو حل ته تدابیر ونه نیسي، د ټولو ولایتونو سوداگر به په پراخو اعتراضونو لاس پورې کړي.
خو د کورنیو چارو وزارت ویلي، د هېواد د پانگوالو او سوداگرو خوندیتوب د دوی مکلفیت دی او په دې برخه کې جدي اقدامات پیل شوي دي.
د دغه وزارت سرپرست ویاند نصرت رحیمي ویلي: «په دې وروستیو کې پر سړي تښتوونکو د پولیسو فشار زیات شوی او ډېر یې نیول شوي دي، پرون هم درې ماهر اختطاف چیان ونیول شول. له ښاغلیو صنعتکارانو او سوداگرو مو هیله دا ده، چې که دوی خپلو وسلو ته جواز واخلي او په شرایطو برابر وي، د کورنیو چارو وزارت د وسلې د کارت په وېشلو کې اسانتیاوې رامنځته کړې دي».

# د افغان سیاسیونو سل کسیز پلاوی د پنجشنبې په ورځ قطر ته ځي



افغان سیاسي مشرانو او د سیاسي احزابو استازو د قطر کنفرانس لپاره خپل نوملړ نهایي کړی دی.
په قطر کنفرانس کې چې د اپریل په شلمه او ۲۱مه د دوو ورځو لپاره په دوحه کې تنظیم شوی، افغان سیاسیون او د طالبانو استازي یو له بل سره د سولې او روان وضعیت په اړه خپل نظریات شریکوي.
په دغه کنفرانس کې له افغانستانه شاوخوا ۱۵۰ کسان گډون کوي، چې سل کسان یې سیاسي مشران دي.
دا په داسې حال کې ده چې حکومت تر اوسه له سیاسیونو سره پر گډو لېستونو توافق ته نه دی رسېدلی، خو د سیاسي گوندونو استازو خپل سل کسیز لېست بشپړ کړی دی. بلخوا پر حکومت تور دی، چې د قطر کنفرانس پر گډونوالو محدودیتونه وضعه کول غواړي او په پلاوي کې د داسې کسانو پر شمولیت ټینگار کوي، چې له طالبانو سره د سولې پلویان نه دي. د تېرې شنبې په ورځ د حکومت په استازیتوب د سولې عالي شورا د دارالانشا رییس، عمرداوودزي یوه خبري کنفرانس ته ویلي، چې په ارگ کې د سیاسي مشرانو مجلس د ټاکل شویو کمېټو د رپوټونو د نه تکمیل کېدو له امله ځنډېدلی، خو سیاسي مشرانو او د احزابو استازو ویلي، چې حکومت د لویې جرگې د نېټې تر را رسېدو پورې د قطر کنفرانس لپاره د روانو تیاریو ځنډول غواړي.
ټاکل شوې ده چې له کابل نه د سیاسي مشرانو پلاوی د پنجشنبې په ورځ دوحې ته لاړ شي او د جمعې په ورځ د دغه هېواد له امیر شیخ تمیم بن حمد آل ثاني سره د هغه په غوښتنه د جمعې لمونځ یو ځای ادا کړي.

## د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,٦۰ |
| € | ۸۷,۷۰ |
| Rp. | ٥۳٥ |
| ₹ | ۱۱۱۰ |
| ¥ | ۱۱,٤۰ |
| £ | ۱۰۱ |

## پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

## بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالۍ زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**گرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲٥۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily






دوشنبه د ۱۳۹۸ د وري ۲٦مه | د ۲۰۱۹ د اپریل ۱۵مه | دویم کال | ۳٦۳مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| ۱۷ | ۱٦ | ۲۲ | ۲٤ | ۲۸ |
| ۸ | ۱۱ | ۱۳ | ۱۵ | ۱۷ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۲۱ | لمر ختل ۰۵:٤۳ | ماسپښین ۱۱:٤۵ | مازیگر ۰٤:۰۲ | ماښام ۰۵:٤۵ | ماخوستن ۰۷:۰۹

## نړۍ



## پامپیو: د ایران له پیسو په جنوبي امریکا کې د ناوړه موخو لپاره کار اخیستل کیږي


۳


## کمیسیون برگزاری لویه جرگه: آماده ایم بار دیگر با احزاب و جریان های سیاسی نشست های مشورتی داشته باشیم



کمیسیون برگزاری لویه جرگه مشورتی صلح می‌گوید که هرچند از آغاز این روند، با احزاب و جریانهای سیاسی برای برگزاری این اجماع ملی، نشست‌ها و مشوره هایی داشته اند؛ اما یکبار دیگر آماده اند تا از دیدگاه ها و نظریات سازندۀ آنها برای بهبود پروسه استفاده کنند.
در جرگه مشورتی صلح که قرار است برای چهار روز، به تاریخ ۹ ثور آغاز یابد، بیش از دو هزار تن از مرکز و ولایات کشور اشتراک خواهند نمود.
این درحالیست که تیم ثبات وهمگرایی به رهبری داکتر عبدالله، لویه جرگۀ مشورتی صلح را مُمد به حل مشکلات موجود در افغانستان ندانسته، دیروز اعلام کرد که در آن اشتراک نمی کند.
در اعلامیه دارالانشای کمیسیون برگزاری لویه جرگه مشورتی صلح آمده است که در جرگه مشورتی صلح، روی دو موضوع (تعریف و چگونگی دستیابی به صلح و حدود و چارچوب مذاکره با تحریک طالبان)، بحث و ارزیابی صورت می گیرد.
به نقل از اعلامیه، قبل از اعلام تاریخ برگزاری لویه جرگه مشورتی صلح، مشوره ها و دیدگاه های احزاب و جریان های سیاسی مبنی بر چگونگی برگزاری این اجماع ملی، در نشست های متعدد مورد بحث و بررسی قرار گرفته است.

## د پي ټي ایم زرگونو کسانو یوځل بیا د خپلو حقونو غوښتنه کړې ده

پښتون ژغورنې غورځنګ د خپلو حقونو لپاره د خپلو غونډو په لړ کې، پرون د اپریل پر ۱۴مه د شمالي وزیرستان په میرانشا کې د زرگونو کسانو په گډون غونډه کړې ده.
دوی په قبایلي سیمو کې د هدفي وژنو د مخنیوي ترڅنګ، هلته له ماینونو څخه د سیمې پاکولو، د پاکستاني پوځ له لوري د ورکو شوو کسانو د خوشې کولو غوښتنې بیا ځلې تکرار کړې دي.
د پښتون ژغورنې غورځنګ یوه مشر محسن داوړ ویلي، د دې غونډې موخه د هدفي وژنو پای ته رسولو او تلپاتې سولې لپاره غږ اوچتول دي.
د شمالي وزیرستان زرگونو اوسېدونکو او د پښتون ژغورنې غورځنګ غړو د پوځي تشدد، ویجاړۍ، تبلیغاتي جنگ او د پاکستاني دولت ظلم غندلی او پر وړاندې یې خپل یووالی اعلان کړی دی.
د عوامي نېشنل گوند مشرتابه غړي او د دې غونډې گډونوال افراسیاب خټک ویلي، وزیرستان د عدم تشدد او سوله ییز ځواک په وسیله خبرې کوي، خو پاکستانی رسنۍ دا غږ نه منعکسوي.
د پښتون ژغورنې غورځنګ مشرانو دا هم ویلي، چې له افغانستان سره د غلام خان له لارې پرانیستل یې هم یوه لویه غوښتنه ده.
د دغه غورځنګ د غوښتنو په اړه د پاکستان حکومتي او امنیتي چارواکو تر دې وړاندې ویلي وو، چې د یاد غورځنګ ډېرې غوښتنې سمې دي او دوی یې د حل کولو هڅې کوي.

